# سکاټلنډ ته ښه راغلاست
# (Pashto پښتو)

سکاټلنډ ته په راتلو سره کیدای شي تاسو د ویرې، خپګان، او بیوازیتوب احساس وکړئ او یا هم هر څه نوي درته ښکاري. هر څه نوي او عجیبه دي ځکه چې تاسو هیڅوک هم نه پیژنئ او په خپل وطن پسې خپه یاست. هر څه به ښه شي خو دا به وخت ونیسي. دا لارښود به تاسو ته د ملاتړ ترلاسه کولو، هغه شیان چې تاسو په ګلاسکو کې کولای شئ او ستاسو د ټولو حقوقو په اړه معلومات درکړي.

زموږ هیله دا ده چې تاسو به د لارښود له لوستلو خوند واخلئ او په هغې کې شته معلومات ستاسو لپاره ګټور وي.





Young Survivors - Steps to the Future Group
Glasgow 2006
(Reprinted 2010)

phf Paul Hamlyn Foundation
Glasgow City Council
scottish refugee council
The Scottish Government

# په دې لاربښود کې د
# خپلې خوښې معلومات موندل

## مشکلې کلمې

په دې لاربښود کې ځینې کلمې کیدای شي داسې وي چې ستاسو لپاره پرې پوهیدل سخت وي. ځینې دا ډول کلمې په انګلیسي دي او شمیره ورکړل شوي دي او د لاربښود په پای کې د اصطلاحاتو په لیست کې بیان شوي دي.

## لاربښود کتاب په

دې لاربښود کې موږ بیلابیلې ادارې/ارګانونه یاد کړي دي چې ستاسو د ملاتړ او مرستې لپاره دي. د دې ادارو/ارګانونو او همدا رنګه نورو ادارو په اړه د معلوماتو لپاره، تاسو کولای شي چې د لاربښود په پای کې له ډایرکټري څخه کار واخلئ.

## د هغو ځوانانو لپاره چې له ګلاسکو نه بهر ژوند کوي یو پیغام

که تاسو یو ځوان شخص یي او د سکاټلنډ په کومه بله سیمه کې، له ګلاسکو نه بهر، ژوند کوئ او د پناه غوښتنه کوي، په دې لاربښود کې د شته معلوماتو لوستل ستاسو لپاره هم مهم دي. ډیر شمیر هغه ادارې چې دلته یاد شوي دي په ګلاسکو کې دي، خو که تاسو د سکاټلنډ د مهاجرینو کونسل ته د هغوی په وړیا ټیلیفون شمیره 0800 085 6087 باندې ټیلیفون وکړئ، هغوی کولای شي تاسو په خپله سیمه کې له نورو ادارو سره اړیکې ټینګې کړي.

# د مرستې برابرونکو ته یادونه

په داسي حال کې چې په دي خپرونه کې راغلي معلومات د بی مله ځوانو پناه غوښتونکو لپاره لیکل شوي دي، موږ همدا رنګه د مرستو برابرونکو څخه چې د دوې ملاتړ کوي غواړو چې دا لاربښود ولولي او دا خبره یقیني کړي چې هغوی په ټولو معلوماتو پوهیږي. دا به هغوی ته په کافي اندازه پوهه او معلومات ورکړي چې د لاربښود محتوی د هغوی تر څارنې لاندې ځوانانو ته ور وپيژني.

# د مرستې مننه

دا لاربښود د سکاټلنډ د مهاجرينو کونسل او لوړ ګام لخوا جوړ شوی دی. د دي لاربښود اړتیا په لومړی ځل د 'Young Survivors Steps to the Future Group' لخوا وپيژندل شوه، کوم چې د 13 نه تر 18 کلونو پورې بی مله ځوانو پناه غوښتونکو کسانو ډله ده چې د لوړګام لخوا ملاتړ کیږي. په دې ډله کې شاملو کسانو دا احساس وکړ چې د پناه غوښتنې د پروسې 3 او د هغوی دحقوقو په اړه د هغوی په اختیار کې مشخص معلومات نشته. د دي ډول معلوماتو اهمیت په هغه تحقیق کې نور هم څرګند شو چې د Scottish Refugee Council او په ګلاسکو پوهنتون کې د ماشوم او ټولنې لپاره د ګلاسکو مرکز لخوا ترسره شو، او په سکاټلنډ کې اوسیدونکو بی مله پناه غوښتونکو ماشومانو اړتیاوي او تجربې یي تر څیړنې لاندې ونیولي.

د دې لپاره چې دا خبره یقیني شي چې دا معلومات به د ځوانانو لاس ته ورسیږي په لومړي کې دا خبره ومنل شوه چې د 'Young Survivors' په ډله کې بوخت ځوانان به د هغې په جوړولو او پراختیا کې برخه ولري او وروسته د کمپوس نویو ځوانانو هم د 2010 کال په اوس مهالوني کې برخه لرله. د 'Young Survivors' ډلې د عمومي مفهموم په جوړولو کې ډیره مرسته وکړه، چې په هغې کې له ډیزاینزر سره له نیژدې کار کول هم شامل وه چې د منځپانګې په اړه مشوره وکړي.

په لاس راغلي نتيجه يو لارښود دی چې تر ډيره حده له کورنی نه بيل شوي پناه غوښتونکو نوي ځوانانو لخوا د هغوی لپاره جوړ شوی دی.

د Scottish Refugee Council او د ګلاسکو د ښار کونسل د هغو سترو مرستو له امله چې د Young Survivors Steps to the Future’ Group‘ ځوانانو او ورپسي د هغه مرستي چې د کمپوس ځوانانو د 2010 کال د تازه کولو لپاره ترسره کړي، له هغوی څخه مننه کوي. د هغوی شخصي تجربې او په سکاټلنډ کې د پناه غوښتنې په اړه پوهه د دې لارښود په جوړولو کې ډير د ارزښت وړ دي. دا هيله کيږي چې د هغوی د تجربو د شريکولو له لارې، نور ځوانان چې له ورته حالاتو سره مخ وي، نور هم د اساسي مسالو په اړه با خبره وي کومې چې سکاټلنډ ته په راتګ او دلته اوسيدلو، د پناه غوښتنې او په خپلو حقوقو باندې د پوهيدلو لپاره مهم دي. که چيرې تاسو د دي لارښود څخه د کار اخيستلو لپاره نورې لارښوونې يا زده کړي ته اړتيا لرئ، مهرباني وکړئ او له Scottish Refugee Council سره اړيکې ونيسئ.

February 2010

# محتویات

**به اسکاتلند راغلاست**

به گلاسکو "Glesga" ښه راغلاست 01

سودا اخیستل 02

کلتور او تفریح 05

ملاتړ 13

ملنډي وهل او ځورول 14

**ستاسي پناه غوښتنه**

تاسو ته ولي یوازي شوي ماشوم ویل کیږي

پناه غوښتونکی ماشوم او له کورنۍ بیل شوي ماشوم 20

پناه غوښتنه او قانون 21

د پناه غوښتنه 22

تاسو څه ډول د پناه غوښتنه کوئ ؟ 22

تاسو ولې قانوني استازي ته اړتیا لرئ ؟ 23

آیا تاسو له خپل قانونې استازې څخه خوشحاله یاست؟ 24

ژباړن 25

ستاسو د پلټنې په مرکه کې څه پیښیږي؟ 25

د کورنیو چارو وزارت ته راپور ورکول 27

خپل د شواهد د اظهار د فورمې بشپړول 27

ستاسي د پناه غوښتنې په اړه تصمیم 29

د استیناف درخواست کول 30

د پاتې کیدلو/فعالې کتنې د تمدید لپاره درخواست کول 31

که چیرې ستاسو د پناه غوښتنې دعوا په بشپړه توګه رد شي نو څه کیږي؟ 33

که تاسو نور نشي کولای چې د اپیل یا استیناف غوښتنه وکړي نو څه کیږي؟ 34

که تاسي د خپلې پناه غوښتنې په اړه مثبته پریکړه تر لاسه کړئ؟ 35

د سفر کولو سند 36
د کورنۍ له غړيو سره اړيکې نيول 37

**ستاسي حقوق**
د ماشومانو د حقوقو خدمتونه (ګلاسکو) 40
که تاسي تر پالنې لاندې ياست دا څه معنی لري؟ 41
رضاعي والدين يا تر پاملرنې لاندې اوسيدل؟ 42
د نظر څرګندولو ستاسو حق 42
ستاسو ليدنې کتنې 44
له هغو خلکو سره چې د تاسو لپاره مهم دي د کتلو حق 47
ستاسو د ساتنې پلان 48
ستاسو له ځان سره وخت 48
ستاسي تعليم 50
ستاسي روغتيا 51
د خپل ځان ساتنه او پالنه 52
ستاسو رازداري او محرميت 53
خپلو شخصي معلوماتو او سوابقو ته لاسرسي درلودل 54
مخ ته تګ 55
د هغه ځای مقررات چې تاسو هلته ژوند کوئ 57
ستاسو د شکايت کولو حق 61

**د مشکلو لغاتو او اصطلاحاتو معنی** 64

**ډايرکټري** 70

**د ګلاسکو لويه نقشه**

**د پناه غوښتنې پروسه**

**هغه خلک چې له تاسو ملاتړ کوي**